# محمد

**مدنی سورة دی ۳۸ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ أَضَلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ١

**(الله تعالی) د هغو کسانو ټول( نیک) اعمال تباه او باطل اعلانوی چې کافران دی او خلک د الله تعالی له لارې( اسلام نه) راګرځوی.**

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَءَامَنُواْ بِمَا نُزِّلَ عَلَىٰ مُحَمَّدٖ وَهُوَ ٱلۡحَقُّ
مِن رَّبِّهِمۡ كَفَّرَ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَأَصۡلَحَ بَالَهُمۡ ٢

**او د هغو کسانو ژوند به اصلاح ( او سوکاله او هوسا) کړی او ګناهونه به یې ترې ورژوی، چې ایمان یې راوړی، نیک عمله دی او هغه( قرآن یې د حق کلام ګڼي) منلی چې په محمد( صلی الله علیه وسلم) باندې یې د رب له لوری نازل شویدی.**

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱتَّبَعُواْ ٱلۡبَٰطِلَ وَأَنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّبَعُواْ ٱلۡحَقَّ مِن رَّبِّهِمۡۚ
كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ أَمۡثَٰلَهُمۡ ٣

**دا ځکه چې کافران د باطل پیروان دی او مؤمنان د هغه حق پیروی کوی چې د رب له لوری یې ورته راغلی دی. په دې توګه الله تعالی خلکو ته د دواړو ډلو( مؤمنانو او کافرانو) اوصاف او مشخصات بیانوی.**

فَإِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَضَرْبَ ٱلرِّقَابِ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّواْ ٱلْوَثَاقَ فَإِمَّا
مَنًّۢا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَآءً حَتَّىٰ تَضَعَ ٱلْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ۚ ذَٰلِكَ وَلَوْ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَٱنتَصَرَ مِنْهُمْ
وَلَٰكِن لِّيَبْلُوَاْ بَعْضَكُم بِبَعْضٍ ۗ وَٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَن يُضِلَّ
أَعْمَٰلَهُمْ ﴿٤﴾

نو( ای مؤمنانو!) کله چې د جګړې په ډګر کې، له کافرانو سره لاس او ګریوان شی( په پوره میرانه او شهامت ورسره وجنګیږئ) ورمیږونه یې ووهئ او له پښو یې وغورځوئ، څه شمیر( چې کولی شئ) ژوندی ونیسئ اوټینګ یې وتړئ.( له برمته کیدو وروسته مو خوښه خپله) چې د احسان او ښیګڼې له مخې یې خوشې کوئ( چې کیدی شی ستاسو د رحم او نیکو اخلاقو له امله زیات شمیر مخالفین د اسلام په مقدس دین مشرف شی. او که ترې د خوشې کیدو په مقابل کې) فدیه او معاوضه اخلئ( او یا یې هم د مسلمانو جنګی قیدیانو سره تبادله کړئ، او جګړه تر هغه روانه وساتئ) چې جګړه ماران خپلې وسلې په ځمکه کیږدی. همدا دی ( الهی فرمان) او که الله تعالی اراده وکړی( بې له جنګ جګړې به د بیلابیلو عذابونو په وسیله ) له کافرانو څخه انتقام واخلی ( خو تاسو ته یې د جهاد او قتال حکم ځکه درکړ چې غواړی) ځینې مو د ځینو په مقابل کې وازمایی( او عامه منظر ته ثابته کړی چې څوک د الله تعالی په لار کې د ځان ، مال او اولاد قربانئ ته تیار دی). او هغه کسان چې د الله تعالی په لار کې د شهادت مقام ته رسی ( نیک) عملونه یې هیڅکله هم نه ضایع کیږی.

سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ﴿٥﴾

( الله تعالی) به یې ډیر زر( د نیکمرغی او کرامت لوړو مدارجو ته) لارښوونه وکړی او حال به یې کاملاً اصلاح( او په ځانګړو امتیازاتو به ونازول شی).

وَيُدْخِلُهُمُ ٱلْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ﴿٦﴾

او په هغه جنت کې به هستوګن وی (چې په دنیا کې یې ورته) ورپیژندلی و.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ ﴿٧﴾

ای د ایمان خاوندانو که تاسو د الله تعالی( د دین او رسول ) مرسته وکړی، نو هغه به هم ستاسو ملاتړ وکړی او قدمونه( او مورال به مو د جهاد په ډګر کې ) ټینګ او مستحکم کړی( او بری به مو په برخه شی).

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَتَعْسًا لَّهُمْ وَأَضَلَّ أَعْمَٰلَهُمْ ﴿٨﴾

او هلاکت او تباهی دې وی په کافرانو او تباه دې وی د دوی اعمال.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا۟ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَٰلَهُمْ ﴿٩﴾

ځکه همدوی دی چې د الله تعالی د حق کلام( مبارک قرآن) په نزول یې زړونه له غمه چاودل، او له همدې امله
یې الله تعالی ورته ټول اعمال خاورې ایرې کړل.

۞ أَفَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ
دَمَّرَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ ۖ وَلِلْكَٰفِرِينَ أَمْثَٰلُهَا ﴿١٠﴾

( ای پیغمبره! آیا ستا معاصر کافران او مشرکان) په ځمکه کې نه ګرځی ترڅو په دقت سره د پخوانیو(
مجرمینو او باغیانو) انجام او عاقبت ووینی چې څنګه الله تعالی په شدت سره وټکول، او د همدغو عذابونو
فرمان ( د هر عصر د کافرانو او مجرمینو لپاره) هم نافذالعمل دی.

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ مَوْلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَأَنَّ ٱلْكَٰفِرِينَ لَا مَوْلَىٰ لَهُمْ ﴿١١﴾

( د مؤمنانو د بریا او د کافرانو د ماتې او تباهی) لوی لامل دا دی چې الله تعالی د مؤمنانو حامی او مرستندوی
دی او کافران له( دغسې پیاوړی) سر پرست او ملاتړی نه بې برخې دی.

إِنَّ ٱللَّهَ يُدْخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا
ٱلْأَنْهَٰرُ ۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يَتَمَتَّعُونَ وَيَأْكُلُونَ كَمَا تَأْكُلُ ٱلْأَنْعَٰمُ وَٱلنَّارُ مَثْوًى
لَّهُمْ ﴿١٢﴾

الله تعالی به نیک عمله مؤمنان په هغو جنتونو کې هستوګن کړی چې (د ونو) لاندې به یې د ( الهی نعمتونو)
ویالې روانې وی. په داسې حال کې چې کافران د دنیا د فانی ژوند په مزو چرچو کې ډوب دی او لکه د څارویو
په شان په خوراک( څښاک خوشاله او له خپل راتلونکی سرنوشت نه غافل دی) چې ابدی هستوګنځی یې دوزخ
دی.

وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ هِىَ أَشَدُّ قُوَّةً مِّن قَرْيَتِكَ ٱلَّتِىٓ أَخْرَجَتْكَ أَهْلَكْنَٰهُمْ فَلَا
نَاصِرَ لَهُمْ ﴿١٣﴾

ډير داسې ښارونه مو ډرې وړې کړی چې (اوسيدونکی يې) له هغه ښار( مکې) نه ډير پياوړی وو، چې ته ترې ايستل شوی يې، ( د عذاب د نزول په وخت کې يې بيا  د نجات لپاره) هيڅ  ملاتړی او مرستندوی  هم نه و.

أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِۦ كَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَهْوَآءَهُم ١٤

آيا هغه څوک چې د خپل رب له لوری( د اسلام) په مستقيمه لار روان دی، له هغه (مفسد او تخريبکار) سره يو شان دی چې ناوړه کړنې يې ورته ښې او معقولې ښکاری او د خپلو نفسی خواهشاتو په لومو کې نښتی دی؟

مَّثَلُ ٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ ۖ فِيهَآ أَنْهَٰرٌ مِّن مَّآءٍ غَيْرِ ءَاسِنٍ وَأَنْهَٰرٌ مِّن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُۥ وَأَنْهَٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّٰرِبِينَ وَأَنْهَٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ۖ وَلَهُمْ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ ۖ كَمَنْ هُوَ خَٰلِدٌ فِى ٱلنَّارِ وَسُقُواْ مَآءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَآءَهُمْ ١٥

د هغه جنت صفت چې له پرهيزګارانو سره يې وعده شوې( داسې دی چې) د پاکو ربنو، نه بدليدونکو اوبو او داسې شيدو ويالې پکې روانې دی چې خوند يې نه اوړی، او هم پکې د څښونکو لپاره د خوندورو شرابو ويالې او د صافو شاتو رودونه روان دی، او ډول ډول ميوې ورته تيارې پرتې دی. او( په دغو ټولو نعمتونو برسيره يې) د رب له لوری( تر ټولو لوی امتياز) مغفرت هم په برخه دی. نو آيا (په دغه جنت او  امتيازاتو سرلوړی مؤمنان) له هغه چا  سره برابر دی چې تل تر تله به په اور کې پراته وی، څښاک به يې داسې جوشيدلې اوبه وی چې کولمې به يې ټوټه ټوټه کوی.

وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ حَتَّىٰٓ إِذَا خَرَجُواْ مِنْ عِندِكَ قَالُواْ لِلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ مَاذَا قَالَ ءَانِفًا ۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَهْوَآءَهُمْ ١٦

ځينې (کافران او مشرکان) ستا خبرو ته غوږ نيسی، خو کله چې ستا له مجلسه ووځی د پوهې او معرفت لرونکو ته( په ټوکو او مسخرو) وايي: پيغمبر څه وويل؟( مونږ خو يې بيخی په خبره و نه پوهيدو). دا هغه کسان دی چې الله تعالی يې په زړونو د بدمرغی ټاپه وهلې او بس د خپلو نفسی خواهشاتو ډول ته ناڅی.

وَٱلَّذِينَ ٱهۡتَدَوۡاْ زَادَهُمۡ هُدٗى وَءَاتَىٰهُمۡ تَقۡوَىٰهُمۡ ١٧

**او هغوی چې د هدایت نعمت یې په برخه شوی، الله تعالی ورته د هدایت لاره نوره هم روښانه کوی او په لا زیاته تقوی او پرهیزګاری یې سرلوړی کوی.**

فَهَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن تَأۡتِيَهُم بَغۡتَةٗۖ فَقَدۡ جَآءَ أَشۡرَاطُهَاۚ فَأَنَّىٰ لَهُمۡ
إِذَا جَآءَتۡهُمۡ ذِكۡرَىٰهُمۡ ١٨

**نو آیا( کافرین او منافقین) د قیامت ناڅاپه راتګ ته سترګې په لار دی( چې نښې نښانې یې لا اوس هم څرګندې شوې دی) خو که نابېره ورباندې قیامت راشی، بیا ورته پند اخستل او توبه ویستل څه ګټه لری؟**

فَٱعۡلَمۡ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لِذَنۢبِكَ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ
وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مُتَقَلَّبَكُمۡ وَمَثۡوَىٰكُمۡ ١٩

**نو( ای پیغمبره!) پوه شه چې د الله تعالی نه غیر بل برحق خدای نشته( او لکه څنګه چې اوس ستا معمول دی، د تل لپاره باید په حق باندې ټینګ او ثابت قدم واوسې او د عبودیت د اظهار او امت ته د تعلیم ورکولو لپاره) د خپلو تقصیراتو او د مؤمنینو نارینه و او مؤمنو ښځو د ګناهونو د مغفرت لپاره دعا کوه. الله تعالی ته ستاسو ټولې (دنیوی) هلې ځلې او ( د آخرت) وروستی هستوګنځی ډېر ښه معلوم دی.**

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَوۡلَا نُزِّلَتۡ سُورَةٞۖ فَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ مُّحۡكَمَةٞ
وَذُكِرَ فِيهَا ٱلۡقِتَالُ رَأَيۡتَ ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ
نَظَرَ ٱلۡمَغۡشِيِّ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡمَوۡتِۖ فَأَوۡلَىٰ لَهُمۡ ٢٠

**او مؤمنان( چې د کافرانو او مشرکانو له ظلمونو او شکنجو نه ورباندې ځمکه سور تنور شوې ده ارزو لری چې د جهاد او قتال د پیل الهی حکم ترلاسه کړی) وایی: ولې یو داسې مکمل سورت نه نازلیږی( چې مونږ ته د کفارو په ضد د وسله والې مبارزې اجازه وشی، خو کله چې د صریحو او مستحکمو احکامو لرونکی) سورت نازل شی او د قتال حکم پکې شوی وی، په نفاق اخته ناروغان به ووینې چې تا ته به ګوری خو ته به وا، د مرګ بیهوشی ورباندې راغلې ده، نو هلاک دې وی دوی( او همدا یې ده د نفاق او عناد سزا).**

طَاعَةٌ وَقَوْلٌ مَّعْرُوفٌ ۚ فَإِذَا عَزَمَ الْأَمْرُ فَلَوْ صَدَقُوا اللَّهَ لَكَانَ خَيْرًا
لَّهُمْ ﴿٢١﴾

**د دوی لپاره غوره او بهتره دا ده چې د عمل په ډګر کې( د الله تعالی او پیغمبر) اطاعت وکړی،رښتیا او معقولې خبرې وکړی (او د جهاد او قتال الهی حکم ته) په خوښی او صداقت سره لبیک ووایی.**

فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِن تَوَلَّيْتُمْ أَن تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا
أَرْحَامَكُمْ ﴿٢٢﴾

**نو( ای منافقانو!) که تاسو( د محمد رسول الله د اسلامی او اصلاحی انقلاب  له ملاتړ نه) غاړه وغړوی( او د جاهلیت نظام ته ستانه شئ او واک او قدرت هم درکړی شی، د پخوا په شان به) په ځمکه کې د ظلم او بربریت، فساد او ورور وژنې اور بل کړئ او له خپلو خپلوانو سره به د قرابت اړیکې وشلوئ( په داسې حال کې چې الله تعالی د ارحامو د وصل ټینګه سپارښتنه کوی).**

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَىٰ أَبْصَارَهُمْ ﴿٢٣﴾

**دا  هغه کسان دی چې الله تعالی  له خپل رحمت نه رټلی، غوږونه یې ورله کاڼه کړی( چې حق نه اوری)  او د بصیرت نور یې  ترې اخستی او سلب کړی( چې حق نه وینی).**

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا ﴿٢٤﴾

**آیا ( د حقایقو د پوهیدو لپاره)  په قرآن کې غور او تفکر نه کوی، او که د زړونو( دروازو ته یې) جرندې اچول شوی دی؟**

إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى ۙ
الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَىٰ لَهُمْ ﴿٢٥﴾

**هغه منافقان چې د هدایت( او ایمان راوړلو) نه وروسته بیرته خپلو باطلو عقایدو ته ستنیږی( او د اسلام، پیغمر او قرآن دښمنی ته ملا تړی) شیطان ورته تولې ناوړه کړنې په نظر کې ښې او معقولې ښکاره کړې او د اوږد ژوند( او عیش عشرت) وعدې ورکوی.**

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لِلَّذِينَ كَرِهُوا مَا نَزَّلَ اللَّهُ
سَنُطِيعُكُمْ فِي بَعْضِ الْأَمْرِ ۖ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ ﴿٢٦﴾

**دا ځکه چې منافقانو به( يهوديانو او نورو کافرانو) ته چې د الهی وحې له نزول نه کرکه کوی، وويل چې مونږ په ځينو چارو( د رسول الله او مؤمنانو په دښمنی ) کې ستاسو اطاعت او ملګرتيا کوو، په داسې حال کې چې الله تعالی د دوی په پټو اسرارو ډير ښه خبر دی.**

فَكَيْفَ إِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ
وَأَدْبَارَهُمْ ﴿٢٧﴾

**نو هغه وخت به يې څه حال وی(چې د خپل نفاق او اسلام دښمنی د سزا خوند وڅکی( او پرښتې ترې سا اخلی او په مخ او شا يې( د عذاب په متروکو) وهی.**

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ اتَّبَعُوا مَا أَسْخَطَ اللَّهَ وَكَرِهُوا رِضْوَانَهُ
فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ ﴿٢٨﴾

**دا( عذاب ځکه ورکړی کيږی چې) دوی پخپلو (ناوړو او خاينانه) اعمالو سره د الله تعالی قهر او عذاب راپارولی او د الله تعالی د رضا او خوښۍ له هر اقدام څخه يې نفرت درلود، نو الله تعالی يې هم ټول( نيک) اعمال تباه او بابيزه اعلان کړل.**

أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ أَنْ لَنْ يُخْرِجَ اللَّهُ
أَضْغَانَهُمْ ﴿٢٩﴾

**آيا د نفاق په مرض اخته کسان فکر کوی چې الله تعالی به د دوی د کينې او عناد پټې غوټې را ونه سپړی؟( بلکه خامخا به د دوی باطنی خباثت د ازميښتونو په ترڅ کې عامه منظر ته راڅرګند کړی.)**

وَلَوْ نَشَاءُ لَأَرَيْنَاكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيمَاهُمْ ۚ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِي لَحْنِ
الْقَوْلِ ۚ وَاللَّهُ يَعْلَمُ أَعْمَالَكُمْ ﴿٣٠﴾

او که مونږ اراده وکړو( دغه منافقین به تاته یو په یو، او په نامه دروپیژنو، خو بهتره دا ده چې تاسو یې د خپل فراست او بصیرت په قوت) د څیرو له نښو نښانو او د خبرو له طرز نه وپیژنئ، او الله تعالی ستاسو په ټولو چارو ډیر ښه خبر دی.

وَلَنَبۡلُوَنَّكُمۡ حَتَّىٰ نَعۡلَمَ ٱلۡمُجَٰهِدِينَ مِنكُمۡ وَٱلصَّٰبِرِينَ وَنَبۡلُوَاْ أَخۡبَارَكُمۡ ﴿٣١﴾

او مونږ به هرو مرو تاسو د بیلابیلو ازمایښتونو له بټیو څخه تیر کړو، تر څو واقعی مجاهدین او صبر کوونکی( عامه منظر ته) څرګند شی،او ستاسو د ( ایمان، اطاعت او استقامت) حال هم وازمایو.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَشَآقُّواْ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلۡهُدَىٰ لَن يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗا وَسَيُحۡبِطُ أَعۡمَٰلَهُمۡ ﴿٣٢﴾

هغه کسان چې کافران دی او( نور خلک) هم د الله تعالی له لارې راګرځوی او د حقې لارې له پیژندنې وروسته یې له پیغمبر سره سختې دښمنئ ته ملا تړلې( باید وپوهیږی چې) الله تعالی ته هیڅ زیان نشی اړولی،( بلکه د دوی ټولې دسیسې او پلمې به ناکامې او ټول نیک) اعمال به یې هم په خړ سیلاب لاهو شی.

۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَلَا تُبۡطِلُوٓاْ أَعۡمَٰلَكُمۡ ﴿٣٣﴾

ای د ایمان خاوندانو!( پخپلو ټولو چارو کې) د الله تعالی او رسول د اوامرو او احکامو اطاعت وکړئ( او په نافرمانئ او ګناهونو سره) خپلو نیکو اعمالو ته په لوی لاس اور مه اچوئ.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ مَاتُواْ وَهُمۡ كُفَّارٞ فَلَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡ ﴿٣٤﴾

بیشکه هغه کسان چې کفر یې غوره کړی او( خلک) د الله تعالی له لارې راګرځوی او بیا د همدغه کفر په حال کې له دنیا نه رخصت شی، الله تعالی به یې هیڅکله و نه ښښی.

فَلَا تَهِنُواْ وَتَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱلسَّلۡمِ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ وَٱللَّهُ مَعَكُمۡ وَلَن يَتِرَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ ﴿٣٥﴾

نو( ای مؤمنانو! په جهاد کې) د ضعف او کمزورۍ احساس مه کوئ (او کافرانو او مشرکانو ته د ذلت نه ډک د سولې پیشنهادونه، مه وړاندې کوئ) تاسو فاتح او برلاسی یاست، الله تعالی مو حامی او مرسته کوونکی دی او ستاسو نیک اعمال هیڅکله نه ضایع کوی.

إِنَّمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ ۚ وَإِن تُؤْمِنُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ يُؤْتِكُمْ أُجُورَكُمْ
وَلَا يَسْـَٔلْكُمْ أَمْوَٰلَكُمْ ﴿٣٦﴾

( د آخرت د ابدی او تلپاتې نیکمرغۍ او سوکالۍ په مقابل کې) د دنیا ژوند یوه لوبه او ساعت تیری ده، او که تاسو د ایمان او تقوی لاره غوره کړئ،( الله تعالی به یې) درته پوره اجر او ثواب درکړی، او ستاسو څخه به د مال او شتمنې غوښتنه ونه کړی.

إِن يَسْـَٔلْكُمُوهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوا۟ وَيُخْرِجْ أَضْغَـٰنَكُمْ ﴿٣٧﴾

او که ستاسو نه مال او شتمنی (په اصرار او ټینګار سره) وغوښتل شی( نو څه لږ شمیر مخلص مؤمنان به دغه امر ته په ورین تندی لبیک ووایی) خو د زیات شمیر نورو بخل به د دوی باطنی کراهت او کینه کاملاً راڅرګنده کړی.

هَـٰٓأَنتُمْ هَـٰٓؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ لِتُنفِقُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَمِنكُم مَّن
يَبْخَلُ ۖ وَمَن يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَن نَّفْسِهِۦ ۚ وَٱللَّهُ ٱلْغَنِىُّ وَأَنتُمُ
ٱلْفُقَرَآءُ ۚ وَإِن تَتَوَلَّوْا۟ يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوٓا۟
أَمْثَـٰلَكُم ﴿٣٨﴾

خبردار اوسئ، همدا تاسو یاست چې د الله تعالی په لار کې انفاق( مالی قربانۍ) ته رابلل کیږئ، چې ځینې مو بخیلی کوی، او څوک چې بخل کوی نو خپل ځان ته یې زیان اړولی( او خپل اجر او ثواب او ابدی نیکمرغی یې له لاسه ورکړې ده). الله تعالی ستاسو( له انفاق او صدقاتو نه) کاملاً بې نیازه دی خو تاسو فقیران او محتاج یاست، او که د الهی احکامو اطاعت و نه کړئ، ستاسو په ځای به بله ډله راوړاندې کړی( چې سرغړوونکې او بخل کوونکی به نه وی).

« تمت سورة محمد بفضل الله و رحمته والحمد لله رب العالمین»

==================